# د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهمیت

سریزه:

دیو انسان پر بل انسان باندې که هرڅوک وی مسلمان یا کافر یا... یو له حقوقو څخه دا حق دی چې دچاپیریال ساتنې په اړه خپل انسانی مسوولیت کوم ډول چې لازم او ضروری دی اداء او خپلې کړنې دبل چا په ضرر تمامې نکړي، ډېره اړینه خبره ده چې ټول وګړي د ټولنې پدې پوه شي چې څه کوم او څه نتیجه لري، کوم کاروبار چې ئې زه لرم ځانته مې ګټه ډیره ده او که ټولنې ته؟ هغه کاروبار چې ئې سرته رسوو کوم ډول پلان ورته وسنجوو چیرته، څنګه، ولې ، څرنګه ، دڅه لپاره، څه ته اړتیا ده مثبت، منفی اوښې او بدې پایلې ئې کومې دي کومو ادارو سره په تماس کې شم آیا هغه کاروبار کې ورتیا لرم، مسلک مې دی، څنګه ښه باتجربه خلک ځان سره ولرم او څرنګه استفاده ترې وکړم او هغه برخه کې مخکې څه شوي دي او څه نتیجه ئې ورکړې...؟

ددې لپاره چې مونږ منظم، پاک او سپېڅلې چاپیریال ولرو عامه پوهاوی، د وګړوهمکاری، دقانون حاکمیت په عادلانه توګه، اود خپلو کړنو ارزوونه اړینه موضوع ده او مسوولیت زمونږ دادی چې نورو ته په نرمه او پسته ژبه باندې دهغوی کړنو تغییر او دهغوی دژوند په پړاوونو باندې دهغوی دناوړه کړونو اثر تشریح او توضیح اوپرې پوهېدل په عملي، نظري او تمثیلي ډول اړین دي او ورته خاصه پاملرنه وکړو. زه خپله یوه تجربه د جاپان هېواد په ناګویا ښارکې درسره شریک کوم مونږ محصلین دمختلفو هېوادونو په لاره روان وو دجاپان د دوګړو دا عادت وو چې هرچا به چې څه اضافي شیان په لارو لیدل هغه به ئې کثافت دانۍ ته غورځول یعنی دښاروالۍ کارکوونکې مونږ نه لېدل، مکتب کې د ټولو زده کوونکو عادت وو چې باید پاک چاپیریال ولرو په بازارونو کې کاغذی دستمال او دتشناب کاغذ وریا ویشل کېدو... خو یوه ورځ دیوې ښځې سپی په عامه سړک مرداری وکړه ورته موجه شوم چې اوس به څه کیږي ګورم چې دخپل بیک نه ئې کاغذی دستمال راواخیست او مرداری ئې پکې راټوله کړه او کثافت دانۍ ته ئې یووړه!!

زمونږ مسوولیت:

اوس راشه خپل ګران هېواد افغانستان له هغه هېواد سره پرتله کړه سره لدې چې جاپان او افغانستان په یوه ورځ آزادی اخیستې ده اوس افغانستان کې یوه بیلګه یادووم کمپنۍ بازار کې یوه تورو شیشو واله فولډر لوی بوتل لوړ بیه انرژی والا وروسته له استفاده کولو په عامه سړک وغورځاوه نو حالت مې زړه وبوږناوه بوتل مې را واخیست او ورته مې وویل چې بوتل درنه ولوېد هغه په بې توجهی سره وویل بانیش... ددغه ډول کړونو تغییر ډېر آسانه نه بریښې مونږ کولای شو عوامو خلکو ته تمثیلي پارچې وراندې کړو، لاس مینځل، ځان مینځل په منظمه توګه، دحیواناتو دځای موادو ته توجه او نورو کړنو ته به ئې متوجه کړو عادت ته به ئې تغییر ورکړو اضرار به ورته وښودل شي مګر هغه کسان چې ښه پوهیږي او بیا ناوړه کړنې کوي همدانن ۵سنبله۱۳۹۹ کال یوه کش وفش درایور دخپل سراچه موټر څخه دکیلې پټوکي عمومی سړک ته وغورځولو افسوس دی!!

یوله مهارتونو څخه دادی چې هغه څوک چې ناوړه کړنې سر ته رسوی دهغوی دا کړنې عادی وګڼل شي او دهغوی مخکې دهغوی کوم کار چې ئې سرته رسوی په عملی توګه هغه کار مونږ په صحی توګه سرته ورسوو مثلا پټوکی په سړک غورځوی باید مونږئې پورته کړو او باطله دانۍ ته ئې واچوو...

دځان سره فکر کول او هغه باندې وجدانی محکمه دایرول یو مهارت دی مثلا زمونږ مسوولیت دچاپیریال ساتنې په اړه څه دی؟ کومه ونه مو کینولې، اوبه مو ورته اچولې دي ګلخانې مو جوړې کړې شنه باغونه کې ګرځیدل ښه دي مګر دهغه ساتنه زمونږ وجیبه ده.

زه اول هغه چانه دا پوښتنې کوم چې لیک او لوست کوي:

کیله یا کوم بل ډول خواړه یا میوه خورې پټوکی ئې سړک باندې غورځوې آیا دې باندې به کوم شخص ګوډ نشي غیر له چټلۍ نه؟

اضافي پلاستیکونه او دکور اضافي خواړه او نور ولې نه خښوې چې ئې کوڅه کې اچوی؟ ستا همسایګان به ځان ساتنه او چاپیریال ساتنې ته توجه نه کوی ته ئې هم نه کوې؟

ته خپل ځان پاک خوښوې آیا فامیل او دټولنې غړي دپاک خوښوولو په اړه دې فکر کړی؟ نظافت دایمان یوه برخه ده آیا تا دغه برخې ته توجه کړې ده؟

کناراب یا خاک انداز کوم ځای کې جوړوې کوم پلان ورته لرې څاه دې چیرته دی دهغه دروازه، کړکۍ، نل، او دموادو ایستلو منظم پلان ورته لرې؟

دماشومانو دنس ناستی او نورو نارغیو د منابعو په اړه دې فکر کړی، څومره ناروغان لرې علت ئې څه دی څومره پرې مصروف او غمجن ئې او مصارف دکور دې څومره دي؟

ځان تودول غواړې د خپلو سون توکو د ضرر په اړه دې کوم احساس کړی؟

اوبه چې دژوند مهمه برخه ده څرنګه کورنۍ ته برابروې او څومره مصرف پرې کوې څنګه هغه پاکې ساتلی شې؟ دحمام پیسو ته خوشحاله ئې مګر دهغه اضرارو ته دې فکر نشته؟

بلډنګونه جوړوې مګر دهغوی دڅې په موسم کې د ګرم ساتلو په اړه دېتولنې ناخوالې په نظر کې نه نیسې؟

دالله تعالی په نظام کې د لمر هغه وړانګې دي چې بې له کوم توپیر څخه هر شخص باندې خپلې وړانګې خپروي آیا ددغه وړانګو څخه څرنګه استفاده کولای شو، په اوونی کې خپل دکور توشکې، بالښتونه او ظروف اونور مو لمر ته ښکاره کړي دکور نم او لوندوالی مو څرنګه مدیریت کړی دی لمر خپله یو نعمت دی ددې نعمت څخه چې وړیا دی کومه ګټه دې ترې اخیستې ده...

۳۶ میلیونه نفوس کې که ۳۰ میلیونه نفوس په افغانستان کې په دوه ورځو کې هریو دچاپیریال ساتلو په اړه اشتباه وکړي دوخت په تیرېدو سره په څه پیښ شي، آیا هر نفر ته یو دښاروالۍ نفر ضرورډی؟ آیا کابل د ۶ میلیونه نفوس په درلودلو سره څرنګه کولای شي دغه ناخوالې حل او فصل کړي د دهر وګړي مسوولیت دی حد اقل که کومک او همکاری نشي کولای خپله دځان کړنې دې د چاپیریال په ساتنه کې منفی نه تمثیلوی ځکه دغه زوړ فرهنګ او کلتور چې مسوولیت د ښاروالۍ یا مشرانو دی له سر څخه وباسو خپل مسوولیت دانسانی، دینی، اخلاقی او اجتماعی امورو په اړه په ښه توګه سره اداء کړو.

دکورونا ویروس څخه دنیا دومره ګټه پورته کړه چې دهغوی وحشی حیوانات سړکونو ته راووتل، تیل ارزانه شول هغه فعالیتونه چې چاپیریال ته ضرر رسوی کم شول یو بل سره زړه سواندی کوی کومکونو بخش کې فکر کوی انسانی عطوفت څرګندوی د انسان درد خپل درد ورته ښکاري مونږ صرف او صرف په خبرو کې اول نمره یو مګر په عمل کې هیڅ هغه شعر دی وایې( نه ښایي انسان ته چې دبل په غم غمجن نشي – لویه بدبختی ده چې څوک نه ژاړي له چا سره ) که د چاپیریال په ساتنه کې دې څه ندي کړي اوس هم وخت دی اقدام او عمل پکار دی دې خبرو ته په پام سره متأسفانه په افغانستان کې په عوض ددې چې د چاپیریال ساتنې علتونه کم شي زیات شول، اوبه مو تروې او خرابې شوې دکابل ښار کثافات بې حده زیات دي داختر په ورځو کې د حیواناتو پوستکي او دهغوی اضافي مواد حتی په عمومي سړک ولیدل شول اضافي ساحې خو ځانته پریږده دا دچا له لاسه دخپل له لاسه مونږ خپله مو خپل چاپیریال ککړ ساتلی دی په مسکوني کورونو کې رمې رمې وزې پسونه او غواګانې ساتو، دچرګانو فارمونه په عامه کورونو کې دي، فابریکې اود دود تولیدوونکي ماشین آلات حتی په داخل دې ښار کې فعالیت لري.

عامه پوهاوی:

زمونږ وګړی په خاصه توګه روږدی کسان صرف او صرف دا مسوولیت د ښاروالۍ او خیریه موسسو ته متوجه کوی ترکومه به خیریه موسسې او انجیوګانی تاسې ته پاک خواړه، پاکې اوبه او پاک چاپیریال په اړه مسوولیتونه اداء کوي خپل مسوولیت به کله او څه وخت پکار اچوو.

تاسې فکر وکړئ هغه زاړه موټرونه چې دهغوی دود نه تنها نورو ته زیان رسوی خپل فامیل ته څومره په ضرر تمامېدلای شي آیا دهغه د ضرر په اړه چې سرطانی ناروغۍ پیدا کوي خبریاست!! هر سړی که خپل کور یو بیلګه وګڼی دخپل کور کهول مصارف ، مشکلات، مریضۍ، دود، دستور، راشه درشه، دهمسایه حقوق، او نور ټول ضروریات په ښه ډول مدیریت شي دا دخپل همسایه اونورو په ژوند باندې اثر اچوي او هغوی هم ورته اعمال که ترسره نکړی حد اقل ورته یوه مفکوره پیداکیږي او داسې کړنې مثبتې ګڼي.

ددې لپاره چې خپل چاپیریال پاک وساتو ضرورت دی چې هره کورنۍ ، کلی، او دره کې د چاپیریال ساتنې کمیټې جوړې شي د مثال په ډول که چېرې د یوه مسجد ټول ګاونډیان سره راټول شي یوه کمیټه یا کمیسیون وټاکي هغه کې دچاپیریال ساتنې رئیس ، معاون، منشی، خزانه دار او دری یا دوه نور کسان ئې غړی وټاکل شي او ډېر کمې پیسې مثلاً پنځه افغانی په یوه کور جمع شي که دغه مسجد ګاونډیان شل کورنۍ وي نو دمیاشتی دوه سوه افغانی کیږی چې په یوه میاشت کې دری ځله دغه کثافات په زرنج موټرسیکل کې یوړل شی تقریبا اویا افغانی په یوه پیره کیږی چې هم یو کاروبار او هم به کوڅې ، کورونه او لارې او کلی پاک ښکاری او هم به یو منظم اتفاق او اتحاد مینه او وروروالی مینځ ته راشي.

د چاپیریال ساتنې په اړه صرف او صرف دخپل ځان په اړه فکر بدل کړو او دنورو حقوق دچاپیریال په اړه مراعات کړو داطفالو کړنو ته اول خپل والدین متوجه شي که چیرې دغه ناوړه کړنې مونږ بیځایه وګڼو هوا به ککړه شی او مرضونه به پیدا شي ددې نه علاوه دهوا ککړتیا ددې

لامل ګرځي چې باران ونشي ددې لپاره چې د خپل اولاد دآینده په اړه زیات فکر او سنجش کوو خپله چاپیریال هم زمونږ ملي سرمایه ده چې دهغه په اړه څومره مو چې وس کې وي خپله نا غیرې ونکړو.

دبیلګې په توګه که چېرې مونږ بانک کې پیسي لرو نو هغه پیسي وخت ناوخت اخلو آیا فکر کې مو نګرځی چې دغه پیسي خو خلاصیږی څنګه بیرته هغه بانک کې واچوو ددې مثال مصداق دادی چې چاپیریال زمونږ ملی او نړیوال بانک دی چې هر وخت هره ثانیه هره لحظه مونږ ته پیسي راکوی یعني دهغه څخه سالمه ګټه پورته کوو، دزراعت لپاره، دکورونو تودوولو لپاره، دهوسا ژوند لپاره په سوله او آرامښت کې یوبل سره معاملې او ژوند ته ادامه ورکول د منظم چاپیریال په درلودلو سره کیږي.

کله مو دکور دځمکې اخیستلو لپاره هوډ کړی وی اول کوم شي کې چورت او فکر کوئ یقیني خبره ده چې آب او هوا، خاوره، نور وګړي شتون، مکتب ، فابریکه ، سړک او نورې آسانتیاوې لټووو که چېرې دا ټولې آسانتیاوې موجودې وی مګر آب او هوا یا چاپیریال مو خوښ نشي تاسي خپل قصد او هدف تغیروئ ځکه تاسي هغه ځای نه خوښوئ مګر هغه ځای کې ښه مدیریت او منظم دژوند داسانتیاوو دګټې اخیستنې په اړه څه ندي شوي دخلکو توجه نشته، عادتونه عادی ګڼل کیږي.

یوله ناوړه عادتونو څخه زمونږ دادی چې د چاپیریال ساتلو په اړه چې کوم مسوولیت لرو هغه باندې شرمیږو.

دحدیث شریف مصداق یو له ایمان نښانو څخه دادی چې دلارې څخه هغه ضرری شیان که هرڅه وی لیرې شي ، ددې لپاره چې موضوع اوږده نشي باید ډنډې اوبه په دوادمداره توګه سره دمکروب او ککړتیا لامل ګرځی ، اضافی کثافاتو ځای مشخص او ښه مدیریت شي، دمشراو کشر خبرو ته غوږ ونیول شي ، په تفریح ځایونو کې خپلو کړونو ته متوجه او اعانوی صندوقونه کیښودل شي، دحیواناتو ځایونه په ښه ډول مدیریت شي، کارخانې او شرکتونه له ښار څخه دباندې مناسب ځای ته ولیږدول شي، لوی موټرونو سړک جدا شي، دسون توکي مدیریت شي، خاصتاً په ژمي کې پدې اړه هر وګړي متوجه شي، دګاذ، برق او اوبو په مصرف کولو کې غور وشي، ونې ډیرې کښینول شي او ورته منظمې اوبه ورکړل شي.

عامه پوهاوي په اړه ټول باید سره یولاس شي ددین عالمان د چاپیریال ساتنې په اړه خپلو ویناوو کې ځای ورکړي او هغه داسلام دمبارک دین په رڼا کې خلکو ته واضح او روښانه کړي.

هر وګړی ځان دچاپیریال په ساتنې کې خپلې ټولې کړنې او مسوولیتونو ته متوجه او پرې عمل وکړي، هغه ټولنې چې دچاپیریال په ساتنه کې هڅې او منډې تررې کوي دهغوی کارونه تقدیر او ورسره همکاری وشي.

لویو سندونو ته پام وشي سندونو ته ناوړه څیزونه او خرابې اوبه ونه غورځول شي، دکانالیزاسیون په اړه جدی ګامونه واخیستل شي ډیره اړینه خبره خو داده چې دخلکو راشه درشه او د وګړو تریننګ او دهغوی لیده کاته په خاصه توګه هغه ممالکو ته چې دچاپیریال ساتنې په اړه ئې خپل مسوولیتونه په ښه توګه اداء کړي او روښانه ژوند لري ډیر شي هلته لاړشي ترڅو خپل ژوند  او دنورو ژوند سره پرتله شي.

ډیری کسان چې دهغوی په عادت او خواصو کې تغییر راغلی دی هغوی زیاد سیاحت کړی دی اونورو هیوادونو د کلتور فرهنګ او ښو کړنو څخه ئې یو څه زده کړی دی ځکه خپل منفی کړنې ورته تصور کیږی او په اړه ئې لازم تصمیمونه نیسی.

تاسي ګورئ چې افغانستان ښه سیندونه، او ښه سیاحت ځایونه لري په تأسف سره ووایم چې دې جنګونو زمونږ ناخوالې نورې هم زیاتې کړی دی زمونږ استاد به همیشه مونږته په خپل نصیحت کې دا ویل چې صحی خبره ده ته څه نه لرې مګر هغه جامې چې ته ئې اغوندې هغه خو باید پاکې وی!!

په آخر کې یو ځل بیا ټینګار کوم چې دلاسونو وینځل، نوکان اخیستل ، سنت وهل، منظم حمام کول، سرویښتان منظم پریول ، دکور کالی او ظرفونه لمر ته غوړول، د حجرو دهوا بدلول، دځاه داوبو پاک ساتل او خاک انداز په منظم ډول سره جوړول او کور کلی کې ښې او منظمې ګلخانې جوړول او پالیزونو ته توجه کړل ، اضافی مواد تر خاورو لاندې کول اړین او دهرچا مسوولیت او دینی او اخلاقی وجیبه ده. والسلام مع الاکرام (برهان الدین وهاجزی) کابل ۱۲ سنبله ۱۳۹۹ برابره ۲ سپتمبر ۲۰۲۰ سمون لري ۱۵ محرم ۱۴۴۲  غرمه ۱۰:۲۴ دقیقې ددعا په هیله!!!